
# آمینه څه کوي؟

چمتو والي کچه



**لیکوال:** روپا بینرجي
**انځورګر:** پریتم ډار

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



بابا د کوپړۍ چکني جوړوي.
“”اوه! کوپره څه شوه؟ “




مشره خور غواړي چې اسمان رسم کړي.
“”اوه! اسماني/بانجاني رنګ څه شو؟ “



مور غواړي چې د کلمو لوبې معما حل کړي.
“”اوه! ورځپاڼه څه شوه؟ “



د نیا ستن په کالو کې د جادو په څېر حرکت کوي.
“”اوه! تۀ څه شوې؟ “



بابا وايي، “”کور کې څومره خاموشي ده. “
“”امینه به ارومرو څه کوي. “



مور پوښتنه کوي، “”امينه چېرته ده؟ آيا تاسو امينه ليدلې ده؟
“”امينه به ارومرو څه کوي، “ نيا وايي.



امینه په مسکا وايي، “”زه یو خارجي موجود جوړوم! “
“”اوه! نو **دا** هغه څه دي چې امینه یې تر سره کولو لپاره لېواله وه! “
مشره خور وايي.

## لاربښودونکي پوښتنې

1. ولې په کور کې ګډوډي وه؟ کوم شیان نادرکه وه؟
2. آمینه له هغو شیانو سره چې راټول کړي یې دي څه کوي؟
3. تاسو څه فکر کوئ چې آمینې څه وکړل؟
4. د آمینې په اړه وضاحت ورکړئ؟
5. آیا له هغو شیانو څخه چې ستاسو شاوخوا شتون لري څه توکي جوړوی شئ؟ تاسو کوم شیان جوړ کړي دي؟